# زېرى

علمي- څېړنیزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جریده

د تأسیس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

سه شنبه، (۱- ۲مه) ګڼه، درېیمه دوره، پرله‌پسې (۳٦۹- ۳۷۰مه) ګڼه، د ۱۴۰۰ل.کال د حمل(وري) د میاشتې ۳۱مه، د ۱۴۴۲هـ.ق. کال، د رمضان د میاشتې ۸مه او د ۲۰۲۱ز.کال، د اپریل ۲۰مه.


**د اداري یادښت:** د ۱۴۰۰ لمریز کال د حمل میاشتې (۱- ۲مه) ګڼه چې په ۱۴۰۰ لمریز کال کې یې د چاپ او خپراوي تمه کېده، د چاپ د ځنډ او وروسته په هېواد کې د سیاسي تحولاتو له امله ځنډېدلې وه، د اسلامي امارت له راتګ سره دا دی تر بیا کتنې وروسته چاپ او خپرېږي.

## د مورنۍ ژبې زده‌کړه او د کورنۍ دندې




څېړنپوه مولاجان تنیوال

ژباړه او لنډیز


د ماشوم د ژوند په لومړنیو کالونو کې د هغه د ژبني پرمختګ لپاره د کورنۍ تاثیر خورا ډېر مهم او ځانګړی اهمیت لري. د کورنۍ ژبنۍ سویه[1] او په همدې ډول له ماشوم سره د مور او پلار؛ خویندو او وروڼو د بوختیا زیاتوالی او پیاوړتیا په لوړه کچه د ژبې د پرمختګ لومړني پړاوونه ټاکي. د مورنۍ ژبې د زده کړې او روزنې لپاره د والدینو د کور ځانګړې امکانات د هغه ټینګ تولنیز او ژبني تماس څخه را پیدا کېږي چې د کورنۍ غړي د یوه او بل سره ترې. په ځینو ټولنیزو ترتیباتو کې د کورنۍ د روزنې د مثبت رول لپاره مناسب شرایط وي، دا ځکه چې کورنۍ ته د ټولنې د یوې ډېرې مهمې برخې په سترګه کتل کېږي. په همدې تراو کې په کورنۍ کې د ننه د پوهولو اړتیا او حاجت وده کوي. دا چې په پرنسیب[2] کې د کورنۍ هر غړی د پوهولو راپوهولو د ډېرو ټولنو سره په اړیکه کې دی، نو په دې سره د کورنۍ د غړیو په منځ کې د پوهولو راپوهولو نوې اړیکې رامنځته کېږي، په کورنۍ کې پوهول راپوهول د فکري کچې د پراختیا معنا لري. په دې لړۍ (پوهولو راپوهولو) کې ماشومان هم خپله برخه[3] لري. دا شرط دی چې لویان په شعوري ډول ماشومان په داسې خبرو اترو کې ورګډ کړي چې د ژوند د بېلابېلو ستونزو په اړه وي، ماشوم باید چې دا موقع او وخت ولري چې خپلې تجربې او نظرونه یو ځای تشریح کړي، نوموړې دې دا امکان هم ولري چې د کورنۍ په چوکاټ کې په خپلو ستونزو باندې بحث او خبرې وکړي. په دې وخت کې د کورنۍ غړي د ده د خبرو اترو ربښتیني ملګري دي. دا نو هغه څه نه دي چې تش(یواځې) د ژبني پرمختګ ننګه او ملاتړ کوي، بلکې د شخصیت په مثبت پرمختګ باندې هم پدل ښندي. خبرې اترې باید چې په فوق العاده ډول په داسې یوه مناسب چوکاټ کې مرتبې شي چې د ماشوم د افهام او تفهیم د پوهېدنې سره مرسته وکړي. په دې لړ کې باید چې لویان د ماشوم ذهني او ژبنۍ سویې ته چمتوالی ولري. په پرنسیب کې خو باید چې له ماشوم څخه غوښتنې تل د هغه د پرمختګ له حالت څخه یو څه لوړې وي. په دې سره به لویان د ژبنۍ نمونې په توګه اغېزه وکړي ماشومان به په خپل فکري او ژبني پرمختګ کې یو څه وغواړي او کومک به ورسره وشي، د مور او پلار کور کولای شي چې په دې کې ډېره ونډه واخلي ترڅو د ژبنۍ زده کړې او روزنې په پرمختګ کې مشروطې ستونزې له مخې وغړوي؛ د ساري په ډول د ویي‌پانګې په پراختیا او تشخیص او په همدې ډول د هدف سره په مناسبه او اغېزه کوونکې ژبنۍ کارونه کې د مور او پلار مرسته اړینه او مهمه ده. ۳مخ

## په کیسو کې بهرني کرکټرونه


څېړندویه نازو کمال


له ټولګیوالې سره کتابپلورنځي ته لاړم، د داسې یوه لیکوال د لنډو کیسو ټولګه مې وپېرله، چې ډېری وخت خپلو کیسو ته بهرني کرکټرونه انتخابوي. دې راته وویل: ((دا لیکوال بهرني کرکټرونه کاروي، ځکه یې کیسې نه لولم.)) موده وروسته مې له بل چا سره پر کوم بل لیکوال بحث کاوه، همدې ته ورته خبره یې وکړه: ((د دې لیکوال یوه لویه ستونزه دا ده، چې د کیسو کرکټرونه یې بهرني دي.))، د کیسې کرکټر څه ته وایي؟

((اشخاص یا په بله وینا کرکټرونه هغه څه دي، چې په کیسه کې د ویناوو او کړو وړو لپاره رامنځته کېږي.)) (۳)

په بل ځای کې د کیسې د کرکټر په اړه لولو: ((دا هغه څوک دی یا دي چې په کیسه کې رول لوبوي.)) (۲: ۲۴مخ)

بهرنی کرکټر یعنې هغه څېره چې زموږ په کیسو کې رول لوبوي، خو زموږ د سیمې یا هېواد اوسېدونکی نه وي، بلکې د نورې نړۍ یا هېوادونو اوسېدونکي څېرې په کیسو کې ولوبول شي. که د کیسو تخنیکي اړخ ته پام وکړو، نو د کرکټرونو بهرنیوتوب به بیا هم ستونزه یا عیب وګڼو؟ موږ دا منو چې چاپېریال لیکوال اغېزمنوي، مګر هر ډول اغېزې بیا نه شو منلی. ځینې اغېزې یې له کومې تبصرې منو، خو ځینې تاثیرات د تأمل وړ راته بریښي. که یو لیکوال په یوه داسې ټولنه کې ژوند کوي چې جګړه پرې حاکمه وي، نو دا اغېزې یې که په لیکنه کې لولو، د منلو وړ راته ښکاري، خو که یو لیکوال له هېواده بهر ژوند کوي او یو داسې کرکټر انتخابوي چې زموږ د ټولنې اوسېدونکی نه وي، نو خاص په دې خاطر چې کرکټر یې بهرنی دی، د کیسو یا کیسې نور ټول کیفیتونه او ځانګړنې یې له پامه غورځوو، آن تر دې چې نه یې لولو؛ لکه د پورتنیو دواړو کسانو نیوکه چې یواځې او یواځې د کرکټرونو پر بهرنیتوب وه. یو ځای مې ولوستل: ((د بهرنیو کرکټرونو د کیسو یو عیب کله نا کله دا وي چې تر افغان لوستونکي پورې د مطلب رسول په کې سخته شي.))(۱: ۸مخ)

که څه هم دلته د (کله نا کله) قید کارېدلی، خو بیا هم د تأمل وړ ده، چې د بهرني کرکټر استعمال دې عیب وګڼو. کرکټر کیسه پر مخ وړي، یا د کیسو پر مخ ته وړو کې مرستندویه دی، خو د کیسې د نورو عناصرو پېټی به پر کرکټر نه اچوو، مطلب رسونه یواځې د کرکټر نه، بلکې د کیسې په نثر، ډیالوګونو او نورو پورې هم اړه لري. په تخنیکي برخه کې ډېر مسایل شته چې د هغو نه مراعات د کرکټرونو عیب ګڼلی شو، د کرکټرونو بهرنیتوب د دوی عیب ګڼل د تأمل وړ بریښي او که دا عیب بولو، نو د کره کتنې او ادبیاتو د اصولو خلاف کار به مو کړی او یو سرسري قضاوت به وي. که زه په افغاني ټولنه کې ژوند کوم او د بهرني هېواد کرکټر انتخابوم ښایي له ټولو کیفیتونو سره یې پوره بلدتیا ونه لرم، بیا کېدای شي عیب ولري، هغه عیب به یواځې د ده په انځورونه کې وي، خو که زه په بهر کې اوسم او اتل د دې ځای انتخابوم نو څومره به پرې برلاسې وم؟ زموږ کیسه که د ټولنې هینداره وي، کیسه غوره بولو، که نه د کیسې نور اړخونه یا ښېګڼې هم ښایي له پامه وغورځوو. په داسې حال کې چې پښتو ژبې ته په سلګونه ناولونه، داستانونه او کیسې ژباړل شوې دي، په دې کتابونو کې د کرکټرونو بهرنیتوب راته مهم نه دی، نه یې په لوستو کې کومه ستونزه لرو، تر ډېره یې داستان راته اړین وي چې پر څه راڅرخي، نو دا ستونزه یواځې هغه وخت راپېښه شي چې کوم پښتون لیکوال بهرنی کرکټر انتخابوي. زما په اند دلته د فردي ذوق مسئله مطرح ده، ښایي ځینې لوستونکي د وطن اوسېدونکي څېرې خوښې کړي، ځینې کېدای شي یواځې د کرکټر هېواد مهم ونه ګڼي، بلکې د کیسې پیغام، فکر ته اړ ایستل، د کرکټرونو رواني حالتونه او نور مسایل په کیسه کې وپلټي. یوه کیسه د بېلګې په ډول راوړو، کیسه (کیلي) نومېږي. اوله برخه یې د یوې صحنې انځورونه ده او په دې ډول پیلېږي: ((حویلۍ ته له سالونه ور خلاص و. دباندې له ګاونډې سره دېوال ژړ بخون رنګېدلی و، پلاستر یې نه درلود د خښتو په سر یې رنګولی و. یوه وړه لرګینه ټوکرۍ پرې راځړېده، سره ګلان په کې کرل شوي وو. حویلۍ نه وه لاره ګۍ وه، بر سر ته یې د کور شاته د سرک په لور ور ورکړې و. یو پنډ کولپ یې ور اچولی و.)) (۱: ٦۲مخ)

کیسه دوه کرکټرونه لري یو راوي او بل هم راین دی، د لیکوال او راین ترمنځ مکالمې دي. چې ((راین په راوتلې خېټه لاس موږه، سره ږیره یې وګروله لکه پلمه چې یې غوښته:

- دننه کور ته به لاړ شو چې باران نه شي.

- دې وره ته دا لوی کولپ زنګ وهلی... راین ورمخته شو، کولپ یې په لاس واړاوه، راواړاوه: ۳مخ

## د مقالې لیکلو لارې چارې

اوومه برخه




لیکواله: مېرمن ریاحي

ژباړه: څېړنیار فضل الرحمن علیزی


### شپږم ګام

### په مقاله کې د کلیدي ټکو لیکل (Key word)

له معمول سره سم له لنډیز وروسته د څېړنې کلیدي ټکي بیانېږي، تر څو د مقالې د لنډیز له لوستلو وروسته له لوستونکي سره د څېړنې د تر سره کولو د پړاوونو په پېژندنه کې مرسته وکړي، د څېړنې له پړاوونو سره اشنا شي او په دې پوه شي چې کوم ټکي او موضوعات په دې څېړنه یا مقاله کې تر څېړنې لاندې نیول شوي دي.

په داسې یوه مرکز کې چې په میلیونونو مقالې په کې موجودې وي، په هغه کې د یوې مقالې د موندلو لپاره د مقالې کلیدي ټکي را وړل یا لیکل یو اړین کار دی، ځکه که چېرې موږ غواړو چې په دغسې یوې ویبپاڼه او یا سایټ کې چې په هغه کې په میلیونونو مقالې خپرې شوې وي، د خپلې خوښې مقاله پیدا کړو، نو ښه لاره یې دا ده چې د پلټنې په برخه کې یې د مقالې د کلیدي ټکو په لیکلو سره، هغه په ډېره اسانۍ سره پیدا کړو او د خپل وخت د ضایع کېدو مخنیوی وکړو.

په یوه مقاله کې د مسلکي او سمو کلیدي ټکو لیکل ډېرې ګټې لري. د کلیدي ټکو یا کلمو د لیکلو یوه ګټه دا ده، چې د مقالې په خپرېدو، د دې کلیدي ټکو په لوستلو سره د لوستونکو پام ځانته ور اړوي او ډېره کتل کېږي، کله چې ډېره ولیدل شوه، نو په ډېر احتمال سره چې له مقالې څخه به په بېلابېلو ځایونو کې د رفرنس په توګه ګټه واخیستل شي چې دا به په نورو خپرو شوو مقالو کې ستاسو د مقالې ارزښت لا ډېر کړي او ډېر لوستونکي به هغه ولولي، شهرت به تر لاسه کړي چې دا بیا په خپل ځای ستاسو لپاره نور ډېر زېرې له ځان سره لري.

د مقالې حجم او منځپانګې ته په پاملرنې، کلیدي ټکي د لنډیز په پای کې له ۳ څخه تر ۷ کلمو پورې راځي او د سیمي کولن(؛) په مرسته یو له بل څخه بېلېږي. د مقالې کلیدي ټکي باید د مقالې داصلي کلمو څخه وي، تر څو د مقالې د موندلو او تر لاسه کولو په وخت کې ترې ګټه واخیستل شي.

**په یوه مقاله کې د کلیدي ټکو د لیکلو اصول**

۱. د دې لپاره چې د یوې مجلې لپاره مو د مقالې لیکلو په وخت کې د هغې ټول شرطونه په ښه ډول په پام کې نیولي وي او هغه مو مراعات کړي وي، نو د هغې مجلې د کلیدي ټکو طرز العمل باید په پام کې ونیول شي، ځکه هره مجله د مقالې لیکلو ځانګړی طرز العمل لري، نو د هغه طرز العمل ۳مخ

لیکوال: پروفیسر انور جمال
ژباړه: نازو کمال




## سریزه

هر علم د خپلو رموزو د بیان لپاره ځانګړې ژبه لري، د دې ځانګړې ژبې بنسټ اصطلاح ده. دلته پوښتنه رامنځته کېږي چې ولې هر علم ځانګړې ژبې ته اړتیا لري؟ دغه داسې پوښتنه ده چې د یوې کورنۍ غړي جلا جلا چاپیریال ته څه اړتیا لري؟ د اصطلاحاتو نظام د یوې برخې بیاني اړتیا ده، له اصطلاحاتو پرته هیڅ عالم نورو ته یو علم، نه شي ور پېژندلی. هره پوهنه ځانته ځانګړي اصطلاحات لري، چې خپل رموز پرې بیانوي. ډېری کسان په ادبي لیکنو او بحثونو کې بې دریغه اصطلاحات کاروي، خو ځینې یې له مفهوم، معنا، د استعمال ځای، ځانګړنو او تاریخه خبر نه دي، په ځانګړې ډول د ادبیاتو لوستونکي او زده کوونکي چې کله بېلابېلې لیکنې لولي، دا چې په اصطلاحاتو نه پوهېږي، له خپلې مطالعې هم څه نه شي اخیستی؛ نو د لوستونکو د آسانۍ لپاره دلته ادبي اصطلاحات تشریح او توضیح کېږي.

### ١ـ هنر (Art)

د ښکلا تخلیقي بیان ته هنر یا فن ویل کېږي، چې د ښکلا پنځونې اصطلاح هم ورته کارېږي. د هنر موخه د ژوند د پېښو ښکلاییز بیان دی. په بله وینا د ژوند پېښو یا واقعاتو ښکلاییز تصدیق یا یې په اړه د وهم او شک پیدا کولو ته هم هنر ویل کېږي. هنر د پنځونې یا تخلیق داسې یو عمل دی چې انساني ذات بشپړ صلاحیت په کې لرلی شي. په فن یا هنر کې شاعري، ادب (د ادبیاتو ټول تخلیقي فورمونه)، انځورګري او نور... په کې راتلی شي. په دې ټولو فنونو کې د بیان طریقه او د تخیل د استعمال کچه جلا ده یا توپیر لري، خو د دې ټولو د ښکلاییز عمل قوت او اغېز یو ډول دی. د هنر لپاره شکل او فورم اړین دي، هر کله چې پر بهرنیو مظاهرو انساني روح داسې عمل وکړي چې په کوم شکل یا فورم کې ظاهر شي، نو هنر ترې زېږي. د هنر یوه پېژندنه دا هم کېدای شي: د فطرت او مظاهرو پر خام موادو د انساني روح عمل ته هنر ویل کېږي. د کاسرېر (Cassirer) وینا ده: ((هنر داسې هم تعرفېدای شي، چې هنر اشاروي ژبه ده)).

### ٢ـ ارکي ټایپ (archetypes)

په اصل کې دا اصطلاح له انساني یا بشري علومو څخه ادبیاتو ته راغلې ده. یونګ یې د ټولنیز لاشعور په مفهوم کاروي. ارکي ټایپ هغه پخواني مسایل دي، چې په انساني نسل کې په ډېرو ابتدایي شکلونو انتقالېږي، په تاریخي لحاظ په پخوانیو کیسو او داستانونو کې ابتدایي موجوده نښې چې د فرد په لاشعور کې خوندي وي، ارکي ټایپ ورته ویل کېږي. د یونګ په فکر ټولنیز لاشعور ته ارکي ټایپ وایي.

### ٣ـ آفاقیت (Universality)

دا د ټولو هنرونو یا فنونو اصطلاح ده، یعنې د فنونو یوه مشهوره موضوعي اصطلاح ګڼل کېږي. د انساني احساساتو داسې ښکلاییز او هنري بیان دی چې له قومي او جغرافیوي حدودو ورهاخوا د هر ډول انساني تجربو ترجماني وکړي، آفاقیت ورته وایي. ابتدایي یا لومړني انساني احساسات یو ډول وي، نو هغه هنر چې قومي شي او د یوې ځانګړې طبقې نماینده شي، نو ښایي یوازې هماغه طبقه کار ترې واخلي، خو ټوله انساني سوژه یې موضوع نه شي کېدای. هره آفاقي موضوع څه نا څه قومي کېدای شي، خو هرې قومې یا یوې طبقې پورې تړلې موضوع ته آفاقي نه شو ویلی.

### ۴ـ آهنګ (Harmony)

د ترکیبي عناصرو خپلمنځي اړیکي او تناسب ته آهنګ ویل کېږي. د هر لوی شاعر شعر پر لوستونکو جلا اغېز ښندي، ځینې شعرونه ډېر احساس پارونکي وي او خپل اغېز هم لري. ځینې شعرونه له فکري ژوروالي سره- سره هم غږیز اغېز نه لري، لکه اغېز چې په کې وي، خو اثر یې وروسته پیلېږي، د غږیز اغېز کیفیتونو ته آهنګ وایي. هر شاعر ځانته هنري مزاج لري او همدا مزاج یې د شعر آهنګ جوړوي. که څه هم د هر شاعر د شعرونو په آهنګ کې د الفاظو انتخاب، هجر، مضمون، بندښت، ترکیبونه، تشبیه او استعارې مرسته کوي، خو د دې ټولو په انتخاب کې بیا هم د شاعر هنري مزاج دخیل دی؛ لکه څرنګه مو چې بیا بیا لیدلي دي چې یوه موضوع بېلابېلو شاعرانو په خپلو الفاظو او ځانګړي انداز بیان کړې وي، نو پر همدې اساس یې آهنګ هم جلا دی.

### ۵ـ ابتذال (Vulgarity)

دا شعري او نثري اصطلاح ده، ډېر عامیانه یا سطحي مسایلو ته وایي. په کلام یا وینا کې د بازاري الفاظو کارول یا د یوې داسې موضوع استعمال چې له تهذیبه لرې وي، ابتذال بلل کېږي. ابتذال د کلام په عیبونو یا نیمګړتیاوو کې راځي. ابتذال هغه وخت رامنځ ته کېږي چې شاعر په شاعرۍ کې داسې کلمې استعمال کړي چې اورېدونکي ته د کرکې احساس پیدا شي. د مبتذلو یا ناسمو کلمو ټاکنه ستونزمن کار دی، خو د ښه ذوق خاوند خپله د هغو الفاظو د درک وړتیا لري. لان جایي نس لیکي: که له موقع سره مناسب عامیانه الفاظ استعمال هم شي، تر سینګار شوې ژبې ډېر ګټور او اغېزمن ثابتېږي.

## «د نوروز سرود» کلنۍ مشاعره...

دغه مشاعره د ١۴٠٠ لمریز کال د وري پر ۵مه د پنجشنبې ورځ، د بلخ فکري بنسټ او ام البلاد ټولنیز بنسټ ملګرو له خوا جوړه شوې وه چې پر بلخ سر بېره د کابل، ننګرهار، پروان، پکتیا، سمنګان، فاریاب او څو نورو ولایتونو شاعرانو او فرهنګیانو په کې ګډون کړی وو.

د نوروز سرود په نوم دغې جوړه شوې غونډه کې د بلخ ولایت هغه شاعران او اغېزمن فرهنګي شخصیتونه هم وستایل شول، چې په تېر ١٣٩٩ لمریز کال کې یې کتابونه چاپ شوي وو او یا یې هم په خپله سیمه کې مؤثر فرهنګي خدمت کړی و.

## د تیاتر نړیواله ورځ ...

د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر او نور مسؤلینو له خوا د تیاتر په لرغونتیا، اغېزو او اوسني حالت خبرې وشوې.

په افغانستان کې تیاتر په لومړي ځل د غازي امان الله خان په وخت کې پیل شوی دی.

د غونډې په بهیر کې د تیاتر ممثلانو د تیاتر ننداره اجرا کړه او د موسیقۍ ریاست هنرمندانو د موسیقۍ پارچې وغږولې.

## د افغانستان او تاتارستان د علومو اکاډمیو ترمنځ ...

د افغانستان د علومو اکاډمي او د تاتارستان د علومو اکاډمي ترمنځ د علمي او څېړنیزو همکاریو هوکړه لیک په آنلاین بڼه د افغانستان د علومو اکاډمي د رهبري پلاوي، د تاتارستان جمهوریت د صدراعظم مرستیال او د دغه هېواد د علومو اکاډمي د رهبرۍ پلاوي او په روسیه کې د افغانستان د لوی سفیر سید طیب جواد په حضور کې لاسلیک شو.

د کنفرانس په پیل کې د تاتارستان جمهوریت مرستیال صدراعظم د دواړو هېوادونو ترمنځ د هوکړه لیک د لاسلیک کېدو په مناسبت د آنلاین کنفرانس په ترسره کېدلو خوښي وښوده، ویې ویل، د دواړو هېوادونو ترمنځ د مناسباتو تاریخچه اوږده ده، دې نېکو اړیکو ته په پام سره د دواړو هېوادونو د اکاډمیو ترمنځ د هوکړه لیک طرح رامنځته شوه چې نن یې د لاسلیک کېدو شاهدان یو.

د تاتارستان د علومو اکاډمي رئیس وویل چې د دواړو هېوادونو د علومو اکاډمیو ترمنځ د هوکړه لیک لاسلیک کېدل د علم او څېړنې په برخو کې دواړو خواوو ته ګټوره او ارزښتمنه چاره ده.

په روسیه کې د افغانستان سفیر سید طیب جواد په علمي او فرهنګي برخه کې د دواړو لورو ترمنځ د علمي- څېړنیزو بنسټونو اړیکه وستایله او ویې ویل چې د دې تفاهمنامې په لاسلیک کېدو سره به د تاتارستان له جمهوریت سره د همکاریو نوی پړاو پیل شي.

نوموړي، افغانستان ته د تاتارستان د علومو اکاډمي د رهبري پلاوي د سفر په اړه ژمنه وکړه چې په دې برخه کې هر ډول همکارۍ ته چمتووالی لري.

د افغانستان د علومو اکاډمي عمومي رئیس څېړنپوه دوکتور عبدالظاهر شکیب د تاتارستان جمهوریت سره د اړیکو په رامنځ ته کولو خوښي وښوده، ویې ویل، دغه هوکړه لیک باید څو میاشتې مخکې لاسلیک شوی وای، خو د کرونا ویروس د خپرېدو له امله وځنډېد؛ خوشحاله یو چې نن دغه هوکړه لیک په آنلاین بڼه لاسلیک کېږي.

هغه زیاته کړه، د کرونا ویروس په ختمېدو سره به د دواړو اکاډمیو ترمنځ تګ راتګ زیات او اړیکې لا پراخې شي.

د کنفرانس په پای کې د دواړو هېوادونو د علومو اکاډمیو د رئیسانو له خوا د علمي- څېړنیزو همکاریو تفاهم‌لیک لاسلیک شو.

## د نارنج ګل ۵٦مه...

په دغه مشاعره کې چې د ننګرهار مرکز جلال اباد ښار اړوند د پاچا خان په کمپلیکس کې ترسره شوه، په کې د ننګرهار او هېواد پر شاعرانو سربېره د کوزې پښتونخوا نامتو شاعرانو، د هېواد چارواکو، د ولس استازو، فرهنګیانو، سیاسي او قومي مخورو، د شعر مینه والو او ګڼ شمېر نورو عامو خلکو ګډون کړی وو.

## د امیر علي شېر نوايي د افکارو ...

په دغه سیمینار کې د افغانستان لپاره د ازبکستان د جمهور رئیس ځانګړي استازي په خپلو خبرو کې د سیمینار د جوړولو په خاطر د افغانستان له حکومت څخه مننه وکړه.

همدارنګه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سرپرست محمد طاهر زهیر د امیر علي شېر نوايي د شخصیت د بېلابېلو اړخونو په اړه خبرې وکړې او هغه یې د تیموریانو دورې یو عارف، شاعر، مدبر او څواکمن مدیر، موسیقي پوه او اغېزمن شخصیت وباله.

د امیر علي شېر نوايي افکارو ته د نوې کتنې نړیوال سیمینار علمي برخه د کورنیو او بهرنیو پوهانو په ګډون د وري په ١٩مه په هرات ښار کې پیل او ترسره شو.

په پیل کې د امیرعلي شېر نوايي افکارو ته د نوې کتنې نړیوال سیمینار د جوړولو کمېسیون د علمي کمېټې رئیس عزیز ارال د دغې کمېټې کاري رپوټ وړاندې کړ او ویې ویل چې د دغه سیمینار په مناسبت څه ناځه ۵٠ علمي مقالې کمېسیون ته استول شوې وې چې د علمي معیارونو له په پام کې نیولو سره په ځانګړې ټولګه کې چاپ شوې دي. چې په همدې ورځ کورنیو او بهرنیو پوهانو خپلو علمي مقالې ولوستلې.

دغه سیمینار د همدې ورځې په پای کې د لس ماده ییز پرېکړه لیک په صادرېدو سره په هرات ښار کې پای ته ورسېد.

## د څېړنې اصول او مېتودونه...

د دغه کورس د تدریس چارې د څېړنپوه زلمي هېوادمل له خوا چې نږدې پنځوس کاله د څېړنې په برخه کې تجربه لري او د کابل او ننګرهار پوهنتونونو سربېره یې په ځینو نورو خصوصي او دولتي پوهنتونونو کې دغه مضمون تدریس کړی، پرمخ وړل کېدې.

د څېړنې په دغه کورس کې د څېړنې پر عمومي پېژندنې، ډولونو، مېتودونو، تکنیکونو، نورو علومو سره یې پر اړیکو، د څېړنې شکلیاتو، د مأخذ لیکنې پر اصولو، د څېړنې پروپوزل لیکنې او نورو بېلا بېلو برخو تفصیلي بحث شوی دی.

په دغه کورس کې د افغانستان د دولتي ادارو او د علومو اکاډمي له بېلا بېلو برخو څخه نږدې ٢٢ تنو برخه اخیستې وه.

د یادونې وړه ده چې په راتلونکي کې به هم د څېړنې مینه والو ته دغه کورس ادامه ولري.

## د ماشومانو لپاره د لسو چاپ ...

په دې کتابونو کې ٨ د کیسو او ٢ شعري ټولګې دي. دوه یې ژباړل شوي او اته نور یې پنځول شوي دي. د دې رنګه اثارو لیکوال ٩ یې ښځې او یو یې نارینه دی چې د کتابونو نومونه دا دي:

توره سپوږمۍ، ښاپېرۍ او غاټول، پښتو الفبا، شتمنې پیشوګانې، بنجاره، بلمنګه ګیدړه، مرغۍ او لمرګلۍ، ورۍ او ستورۍ، شهزاده او خیاط، شنه پاڼه او سره ممانه.

مصور بنسټ تراوسه د افغان ماشومانو لپاره ٦٧ کتابونه چاپ کړي دي.

دريمه دوره
سه شنبه
(۱- ۲مه) ګڼه
پرله پسې (۳٦۹- ۳۷۰مه) ګڼه

۱۴۰۰ د وري ۳۱
۱۴۴۲ د رمضان ۸
۲۰۲۱ د اپریل ۲۰

## د مورنۍ ژبې زده‌کړه او ...

دا ډېره مهمه ده چې په ټولو پړاوونو کې د ماشوم ژبنۍ فعالیت وساتل شي. په کومه کچه چې د ماشوم سره خبرې وشي په هماغه کچه سړی نوموړی د نویو شیانو، د دوی د خاصیتونو او خواصو او اړیکو سره اشنا کوي. په کومه اندازه چې سړی په دې بحثونو او خبرو کې د ښوونځي او ټولنیز پرمختګ موضوعات ور داخلوي په هماغه کچه به په پوهولو راپوهولو کې د ماشوم د پوهېدنې سره کومک کوي.

په کورنۍ کې دننه د ژبې د روزنې دندې چې دلته په ګوته شوې، کېدای شي هغه وخت ترسره شي چې د والدینو په کور کې د متقابل باور[4] فضا حاکمه وي او مور او پلار خپل ماشوم ته وخت ورکړي، کوم ماشومان چې د مزاحمت څخه په ډکو کورنیو مناسباتو کې سترېږي، کېدای شي چې هلته د ژبې او فکر د پرمختګ مخنیوی وشي.

په کورنۍ کې د ژبې د روزنې ستونزې په دې پورې تړلې دي چې په ځینو سیمو کې ګړدود ته ورته عامیانه ژبه په ورځني افهام او تفهیم کې مهم رول لوبوي په دا منځ کې د ګړدود ویونکي چې دا پام کوي چې د دوی ماشومان د لوړې عامیانه ژبې یا په بله معنا د ادبي ژبې تسلط ته رسېدلي دي په ژبه او ژبني افهام او تفهیم کې فکر په کلي ډول خورا ډېر مهم او فیصله کوونکی دی. په کورنۍ کې د ژبنۍ زده‌کړې او روزنې د ګټورتوب لپاره بل شرط یواځې د والدینو د زړه غوښتنه نه ده چې د شخصیت د پرمختګ دا لوری دې په شعوري ډول وپالل شي، بلکې د ژبې د روزنې لپاره د ستونزو او امکاناتو په باره کې مناسب معلومات (پوهېدنه) لرل هم شرط دي. د دې لپاره د یوې لړۍ پلټنو اړتیا ده چې پایلې یې باید د خلکو له خوا په خوښ او منلي علمي فورم کې والدینو ته د ګټې اخیستنې په موخه وسپارلې شي، دا د روزنې د خاصو دندو د مرجع د فکتورونو او د والدینو د کور په منځ کې د ډېر نیرډې (دوام لرونکي) ګډ کار د کولو غوښتنه کوي. دواړه خواوې باید چې د Regel[5] قاعدې څخه کار واخلي. په دې کړنې سره به د کورنۍ روزنه د موخې په ترلاسه کولو کې اغېزمنه برخه واخلي.

**یادونه:** پاسنۍ موضوع مې د ((ژبپوهنې تیورتیکي پرابلمونه)) نومي اثر لومړي ټوک څخه را ژباړلې او لنډه کړې ده. دغه اثر د آلمان د علومو اکاډیمي چاپخونې په ۱۹۷٦ز کال کې په برلین کې چاپ کړی دی.

---

۱. Niveau
۲. Anteil
۲. Regel
۴. Vertrauen
۵. د Die Regel ویې د نورو معناوو لپاره د جرمني- پښتو سیند ٦۱۲مخ کتلای شئ.

## په کیسو کې بهرني...

ـ نه دی خلاص شوی، اړتیا یې نه ده پیښه شوې.
راین د سالون وره ته وخوځېد، زه لا ولاړ وم ده راته وویل:
ـ بلفاسټ دی دلته باید امنیت ته پام وکړو. راین سالون ته ننوت بېرته یې مخ راواړاوه:
ـ نه امنیت سم دی اوس نو شمالي ایرلنډ کې جنګ نه شته، خو هسې کور ساتل هر ځای ښه وي.
کور ته ننوتم. وړوکی، پاک او ارام ښکارېده.
راین مې وپوښت: ـ دې سیمه کې هم جنګ و؟
ـ جنګ اور دی چې بل وي یا یې لمبې وي یا یې لوګی په هر حال په عذابول کوي خو اوس هر څه سم دي.
راین مټ وګراوه، موضوع یې بدله کړه: ـ په دې کرایه بلفاسټ څه چې په ټول ایرلنډ کې داسې ځای نه موندل کېږي.
ـ ټول ایرلنډ کې؟ راین وخندل، ګړګوټې سره ویښته یې په پنډو ګوتو وګرول: مبالغه هم د جنګ تحفه ده.
وېې خندولم. ده د ترون په هیله لاس راکړ، خوښ و، ما ورته وویل: زه افغان یم، له جنګ سره عادت شوی.
راین موسکه خوله سره ورټوله کړه: له جنګ سره څوک نه روږدی کېږي، هغه چې ځان عادت بولي، ځان غلطوي.)) (۱: ٦۲ـ ٦۳ مخونه)

په کیسه کې مو ولوستل چې لیکوال یوه بهرني سره د کرایي کور لیدو ته ورځي، د کیسې مکان ایرلنډ دی، د کور د کتو پر مهال یو له بل سره د دې یادونه کوي چې یو وخت هلته هم جنګ و. کیسه دوه کرکټره لري، یو خپله لیکوال او بل بهرنی کرکټر دی چې راین نومېږي. راین سره ږیره، راوتلې خېټه او ګړګوټې سره ویښته لري. د کیسې چاپېریال هم له هېواده بهر دی. ایا دا چې یاده کیسه بهرنی کرکټر لري، موږ د کیسې نوره ښېګڼې له پامه غورځولی شو؟ د کیسې لومړۍ برخه په زړه پورې انځورونه ده، هر څه مو سترګو ته دروي. د کیسې مکالمې لنډې دي، لوستونکو ته ښکلی پیغام لېږدوي او دا هم راته وایي چې انسان له جنګ سره نه عادتېږي که ځان عادت هم ګڼي، نو ځان تېر باسي. همدارنګه د کیسې نثر هم په زړه پورې دی، آن د پورتنۍ خبرې پر خلاف چې کله نا کله د بهرنیو کرکټرونو په کیسو کې افغان لوستونکو ته پیغام لېږدول سخت شي، ستونزه هم نه لیدل کېږي؛ نو د کیسې ښه توب باید یواځې د کرکټر پر داخلیتوب پورې ونه تړل شي، ډېرې داسې کیسې لرو چې کرکټرونه یې بهرني وګړي دي، خو په کیسه کې ډېر کیفیتونه، ښېګڼې او ښکلي پیغامونه موندلی شو. د کرکټر بهرنیتوب د لیکوال او کیسو ستونزه او بیا لویه ستونزه باید ونه ګڼل شي.

**مأخذونه**

۱ـ پسرلی، ایمل. ژوند په موسمونو کې، لومړی چاپ، سروش کتابپلورنځی: کابل، ۲۰۲۰م کال.
۲ـ سیدي، سیدنظیم. لنډه کیسه او ادبي ټوټه، صمیم ادبي ټولنه، ۱۳۸٦ل کال.
۳ـ مقامزی، ریاض. لنډه کیسه پېژندنه او ځانګړتیاوې (مقاله)، https://ketabton.com.

## د مقالې لیکلو...

په مطالعې سره یو لیکوال کولای شي چې د مقالې د کلیدي ټکو د لیکلو برخه هم مطالعه او پر لیکلو یې ځان ښه پوه کړي. د ځینو ژورنالونه لپاره د مقالې لیکلو په طرز العملونو کې له ۵ څخه تر ۸ کلمو پورې د کلیدي ټکو لیکلو ته اشاره شوې ده. یعنې کلیدي ټکي باید له ۵ څخه تر ۸ کلمو پورې وي، نو په همدې خاطر کېدای شي چې د مجلو یا ژونالونو لپاره د مقالې د لیکلو طرز العمل په دقت سره ولوستل شي او د دوی له غوښتنې سره سم د مقالې کلیدي ټکي ولیکل شي.

**۲.** د دې لپاره چې له موضوع سره اړوند کلیدي ټکي ولیکل شي، باید فکر وشي، تر ټولو غوره عبارتونه هغه عبارتونه دي، چې په لومړي ګام کې ستاسو د مقالې له عنوان سره اړیکه ولري او په دویم ګام کې هغه عبارتونه راځي چې ډېری څېړونکي د یوې مقالې د پیداکولو په وخت کې له هغه څخه ګټه اخلي. دلیل یې دا دی چې څېړونکي یا خپله تاسو د یوې مقالې د پیدا کولو په وخت کې، هغه عبارت کاروئ، د بېلګې په ډول، که چېرته ستاسو د مقالې موضوع ((په محصلینو کې د سټریا د احساس پیدا کېدل)) وي، نو تاسو د ورته مقالې د پیدا کولو لپاره یواځې د ((سټریا)) د کلمې پلټنه نه کوئ، بلکې کېدای شي چې تاسو ((د محصلینو سټریا)) ترکیب یا هم د ((په محصلینو کې د سټریا د لاملونو معلومول)) ترکیب له لیکلو استفاده وکړئ، پر دې اساس داسې عبارت وکاروئ، چې هغه دوه یا څلور کلمې وي.

**۳.** د مقالې د کلیدي ټکو لیکلو په وخت کې د مقالې په عنوان کې له کارول شویو کلمو څخه باید ډډه وشي، ځکه چې ستاسو د مقالې د عنوان په پلټنې سره ستاسو مقاله خلکو ته په لاس ورځي، خو باید داسې کلمې ولیکل شي چې د هغو په لیکلو سره ستاسو د مقالې د منځپانګې ښکاروندیې وکړي، د بېلګې په ډول: که چېرته ستاسو د څېړنې عنوان ((په محصلینو کې د سټریا احساس)) وي، کولای شئ چې د مقالې د کلیدي ټکو کې ((د محصلینو رواني ګډوډی)) په څېر کلمو څخه کار واخلئ، ځکه چې د مقالې په کلیدي ټکو کې د دغسې کلمو را وړل ستاسو د مقالې د عنوان لا پیاوړی کوي.

**۴.** کلیدي ټکي باید ډېر کُلي هم نه وي؛ د بېلګې په ډول: که چېرته تاسو د مقالې موضوع ((د نوي اپي جنیتک د تنظیمولو د لاملونو موندل)) وي، نو ستاسو د مقالې په کلیدي ټکو کې (جنیتک) یا ((سلولي بیولوژي)) غوندې کلمو څخه استفاده ونه کړئ، ځکه دغه ډول کلمې ستاسو د مقالې اصلي منځپانګه لوستونکو ته نشي ورپه ګوته کولای. د دغسې کلمو پر ځای تر ډېره باید داسې کلمې وکاروئ چې د خپلې مقالې په لنډیز کې مو هغه کارولې وي.

**۵.** هغه میتود یا روش چې د مقالې په لیکلو کې مو ګټه ترې اخستې ده، د مقالې په عنوان او کلیدي ټکو کې را وړئ. ډېر کسان کیدای په همدې خاطر هم ستاسو مقاله ووایي یا یې وپلټي چې تاسو د هغې په لیکلو کې له یوه ځانګړي میتود یا روش څخه استفاده کړې وي.

**٦.** هڅه وکړئ چې په عنوان کې را غلې کلمې په یوه بله بڼه د مقالې په کلیدي ټکو کې را وړئ، د بېلګې په ډول: که چېرته ستاسو مقاله د ایډیز ناروغۍ په اړه وي، کولای شئ چې د ایډیز ناروغۍ پر ځای د HIV کلمه وکاروئ. د HIV د کلمې کارول قانوني جواز لري، ځکه د HIV کلمې په کارولو سره د هرې ځانګې کسان د هغه په اورېدلو سره پوهېږي چې دا یوه ناروغۍ ده یا له یوې ناروغۍ سره اړوند کلمات دي. مګر د ARC مخفف چې د کمپیوټر ساینس د علومو یو فارمټ یا فورمول ده، د ټولو لپاره اشنا نه دی، نو په دې ځای کې بیا کولای شو چې د "ARC د فایل فارمټ" عبارت وکارول شي، تر څو لوستونکي پوه شي چې دا په کمپیوټر ساینس کې یوه اصطلاح یا یو فارمټ دی، ځکه که چېرته یواځې د ARC مخففات وکاورل شي، لوستونکی کېدای شي پوه نه شي، ځکه دغه اصطلاح په ساینسي علومو کې هم ډېرو کسانو نه ده اورېدلې، خو د "ARC د فایل فارمټ" عبارت کارول یې په زړه پورې انتخاب دی.

**۷.** کولای شئ چې له ځینو ویب‌پاڼو څخه، لکه د (امریکا د تګزاس پوهنتون ویبسایټ) چې هغه د کلیدي ټکو په تولید کې شهرت لري، د خپلې مقالې د کلیدي ټکو د لیکلو په وخت د مقالې عنوان ورته ولیکئ او هغوی به تاسو ته له عنوان سره اړوند کلیدي ټکي وړاندې کړي.

**د مقالې د کلیدي ټکو د لیکلو لپاره مهم ټکي**

کلیدي ټکي، لکه د واورین غره ستاسو د مقالې د منځپانګې ښودونه کوي، یعنې کله چې واوره وېلې کېږي، طبعي خبره ده چې اوبه ترې بهېږي او دا ښیې چې پر دې غره باندې واوره شوې ده.

د مقالې کلیدي ټکي باید له ۳ څخه تر ۵ کلمو پورې وي. البته په ځینو مجلو کې له ۳ څخه تر ٦ کلمو پورې د منلو وړ وي.

کلیدي ټکي باید د مقالې له اصلي کلمو څخه وي.

کلیدي ټکي باید داسې کلمې له ځان سره ولري چې هغه په عنوان یا د مقالې په لنډیز کې نه وي را غلې، مګر د مقالې په متن کې را غلې وي.

کلیدي ټکي د سیمي کولن(؛) په راوړلو سره یو له بل څخه بېل شي.

## افغان حکومت د غني...

کالیزې د نمانځلو تر څنګ به د غني خان مقبره د افغانستان ولس او دولت په ګډه جوړوي.

خان عبدالغني خان په ۱۹۱۴م کې د خیبر پښتونخوا د اشنغر په سیمه کې وزېږېده، په ۱۹۹٦م کې مړ او په چهارصده کې خاورو ته وسپارل شو. دی د عبدالغفار خان زوی و چې د خپلې شاعرۍ او لیکوالۍ له امله یې په پښتنو کې شهرت موندلی دی.

## د ۱۴۰۰ کال د پیل...

د غونډې په بهیر کې د موسیقي ریاست هنرمندانو د موسیقي ټوټې او د ملي تیاتر ممثلانو تمثیلي ټوټې اجرا کړې.

د یادونې وړ ده چې له دغو مراسمو مخکې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سرپرست د باختر اطلاعاتي اژانس ځانګړی انځوریز ننداړتون او دغه راز د لاسي صنایعو ننداړتون په چهلستون بڼ کې پرانیست او د سرکس هنرمندانو د سرکس او ورزشکارانو ورزشي ننداړې اجرا کړې.

## د پتنګ (کاغذپران) فیستیوال ...

د کاغذپران لوبه د دې خاورې خلکو یوه پخوانۍ او فرهنګي لوبه ده، کاغذپران هغه الوتونکی دی چې په هوا کې بې ځانه بې روحه الوت کوي او لوبغاړو ته خوښي ور وبښي.

په یاد فیستیوال کې تر ۱۰۰۰ پورې کاغذپرانونه له تار سره ووېشل شول چې زیات شمېر فرهنګیانو او ځوانانو په کې ګډون کړی وو او کابل ښاروالي د دې فیستیوال د ترسره کېدو لپاره زمینه برابره کړې وه.

# زېرى

علمي- څېړنیزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جریده

د تأسیس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

د ۱۴۰۰ ل.کال د وري میاشت | ۱- ۲مه ګڼه | پرله پسې ۳٦۹- ۳۷۰مه ګڼه

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبیاتو مرکز خپرنیز ارګان

**مسئول مدیر:** څېړندوی احسان الحق کبیر

**کتنپلاوی:** څېړنپوه دوکتور سید محي الدین هاشمي، څېړندوی احسان الحق کبیر، څېړندوی مطیع الله ساحل، څېړندوی لطف الله صابر، څېړنیاره شفیقه نوري.

**د اړیکي شمېره:** (+۹۳)۷۴۴۴۸۷۳۳۵

**برېښنالیک:** zerai1316@gmail.com

● په زېري جریده کې له سرلیکنې پرته، د نورو لیکنو سپیناوی په خپله د لیکوالو پرغاړه دی.

www.asa.gov.af

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، زنبق څلورلارې، نوی ښار
کابل- افغانستان

**د یوې ګڼې بیه:** پنځه افغانۍ


## د فرهنګي او ادبي خبرونو پښلیک



څېړنوال محمد آصف احمدزی

### محمد اعظم سیستاني ته د غازي میر مسجدي خان دولتي مډال ورکړل شو

د هېواد پېژندل شوي فرهنګي شخصیت ښاغلي کاندید اکاډمیسن محمد اعظم سیستاني ته د ټولنیزو علومو په برخه کې د هلو ځلو او په ځانګړې ډول د ((سرګذشت سیستان و رود هیرمند)) په اړه د یوې څېړنیزې رسالې د لیکلو په پار د غازي میرمسجدي‌خان دولتي مډال د جمهوري ریاست له خوا منظور او ورکړل شو.



د یادونې ده چې ((سرګذشت سیستان و رود هیرمند)) اثر د دویم ځل لپاره د کمال خان بند د پرانیستې په پار د افغانستان د علومو اکاډمي له خوا چاپ شو.

### د نوروز په پار رنګین ماښام

کابل ښاروالۍ د کابل په ښایسته سیمه بابر بڼ کې د ځینو دولتي چارواکو، هنرمندانو، فرهنګیانو، شاعرانو او د علومو اکاډمي او پوهنتون د استادانو د نوي لمریز کال (۱۴۰۰) د پیل او نوروز په اړوند په یوه رنګین ماښام کې کوربانه وو.



په دې مراسمو کې ویناوالو د نوروز او نوي کال په تاریخي، فرهنګي اړخونو، د پسرلي په ستاینه او د ارزښتونو د ساتلو په برخو کې ویناوې وکړې. په ګډونوالو یې شعرونه او ادبي ټوټې واورولې او د موسیقۍ، تیاتر او ننداري له لارې یې د دې خاورې ارزښتونه او عنعنات ننداري ته وړاندې کړل، چې د ګډونوالو له هرکلي سره مخامخ شول.

### افغان حکومت د غني خان مقبره جوړوي

افغان حکومت پلان لري چې د پښتو ژبې د مشهور فلسفي شاعر عبدالغني خان مقبره جوړه کړي.



جمهوري ریاست د نوي هجري شمسي کال د نمانځنې (د ۱۴۰۰ هـ.ش کال د وري میاشتې لومړۍ نېټه) په مراسمو کې دا اعلان وکړ او ژمنه یې وکړه چې د باچا خان د عدم تشدد د غورځنګ د سلمې ۳مخ

### د ۱۴۰۰ کال د پیل په مناسبت غونډه

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ۱۴۰۰ کال د پیل په مناسبت د کابل د چهلستون ماڼۍ په تالار کې د وري په ۴مه پرتمینه غونډه جوړه کړه. یاد وزارت په نوي کال کې د فرهنګ د ودې او غوړېدو لپاره خپل پلانونه اوطرحې وړاندې کړې. ۳مخ



### «د نوروز سرود» کلنۍ مشاعره جوړه شوه




د بلخ ولایت په مرکز مزارشریف ښار کې د نوروز جشن او پسرلي په ویاړ (د نوروز سرود) په نوم کلنۍ مشاعره جوړه شوه چې سلګونو کسانو په کې ګډون کړی وو. ۲مخ

### د پتنګ (کاغذپران) فیستیوال ترسره شو

په هېواد کې د سراسري سولې د راتلو په هیله د روان ۱۴۰۰ کال د وري پر ٦مه د رسنیو د استازو، فرهنګي شخصیتونو، ځوانانو، د کابل پوهنتون د محصلانو ټولنې او د کابل ښاروالۍ د مسئولانو په ګډون د کابل ښار په وزیر محمد اکبرخان غونډۍ کې د کاغذپران فیستیوال ترسره شو. ۳مخ



### د تیاتر نړیواله ورځ ونمانځل شوه

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ملي تیاتر ریاست د تیاتر نړیوالې ورځې په درناوي د کابل ننداري په تالار کې د وري پر ۷مه غونډه جوړه کړه. په دې غونډه کې ۲مخ




### د افغانستان او تاتارستان د علومو اکاډمیو ترمنځ د همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شو

د افغانستان د علومو اکاډمي او د تاتارستان د علومو اکاډمي ترمنځ د علمي او څېړنیزو همکاریو هوکړه لیک د وري پر ۹مه لاسلیک شو. ۲مخ



### د نارنج ګل ٥٦مه مشاعره جوړه شوه

په ننګرهار کې د نارنج ګل شپږ پنځوسمه دودیزه مېله او مشاعره د پاچا خان په مزار کې په نوې بڼه د وري په ۱۰مه مازیګر مهال ترسره شوه. ۲مخ



### د بادام ګل جشن جوړ شو

په دایکنډي ولایت کې د بادام ګل شپږم فرهنګي جشن د وري پر ۱۱مه د مرکزي ولایتونو د مسئولینو، فرهنګیانو او هنرمندانو او د دایکنډي د خلکو په ګډون جوړ شو.

د دغه فرهنګي هنري جشن په بهیر کې شاعرانو خپل شعرونه ولوستل او د تیاتر او د سیمه‌ییزې موسیقۍ پارچې هم اجرا شوې.

دغه راز د یاد ولایت لاسي صنایع او زراعتي محصولات هم ننداري ته وړاندې شول.

### د "اسانه پښتو لاسي کتاب د هندي تلفظ سره" اثر مخکتنه وشوه

په نوي ډیلي کې د افغانستان اسلامي جمهوریت په لوی سفارت کې د پښتو ژبې په آسانه توګه زده کولو ښوونیز کتاب مخکتنه او پرانیسته وشوه.

په نوي ډیلي کې د افغانستان لوی سفارت د وري پر ۱٦مه مازیګر ((د پښتو ژبې د زده کړې آسان لارښود کتاب -د هندی تلفظ سره)) تر سرلیک لاندې کتاب د مخکتنې د محفل کوربه وو چې د مېرمن پورنیما شرما، نذیر احمد یوسفي او د جواهر لعل نهرو پوهنتون د پښتو ډیپارټمنټ استاد انور خیري له خوا په همدې وروستیو کې تألیف او د هند او افغانستان بنسټ په مالي ملاتړ سره چاپ شوی و.




په سر کې د دې کتاب د مؤلفینو له ډلې مېرمن شرما د کتاب په اړه وویل، دوی هڅه کړې په دې کتاب کې د پښتو ژبې زده کړه د هندي مینه والو لپاره آسانه کړي، په یاد کتاب کې د پښتو ژبې د تورو او جملو تلفظ په هندی او ژباړه یې په انګلیسي ژبه لیکل شوې ده.

د نوموړې د معلوماتو پر بنسټ، دا کتاب له درېوو برخو محاورې، لیکنې او لغتونو/ تورو تشکیل شوی دی.

### د امیر علي شېر نوایي د افکارو د بیاکتنې نړیوال سیمینار جوړ شو

د امیرعلي شېرنوایي د افکارو د بیا کتنې نړیوال سیمینار د وري پر ۱۸مه په هرات ښار کې د مولانا په تالار کې جوړ شو.

دغه درې ورځنی سیمینار د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې او ملي شورا د څو تنو غړو او نورو لوړرتبه دولتي مقاماتو، د افغانستان لپاره د ازبکستان د جمهور رئیس د ځانګړي استازي، په کابل کې د ازبکستان د سفیر او د کورنیو او بهرنیو استادانو، پوهانو او څېړونکو په ګډون جوړ شو. ۲مخ




### "په پښتو کې د ادبي کره کتنې د تاریخي بهیر څېړل"

د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت علمي غړي څېړنیار فضل الرحمن علیزي ((په پښتو کې د ادبي کره کتنې د تاریخي بهیر څېړل)) له خپلې علمي- څېړنیزې پروژې څخه د وري پر ۱۸مه دفاع وکړه.



باید ووېل شي چې د دې علمي پروژې لارښود استاد څېړنوال سید نظیم سیدي و او څېړنپوه دکتور سید محی الدین هاشمي او څېړنپوه محمد نبي صلاحي وړباندې تقریظونه لیکلي دي.

### ((د څېړنې اصول او میتودونه)) کورس پای ته ورسېد

د افغانستان د علومو اکاډمي د سیمه‌ییزو مطالعاتو مرکز په نوښت د افغانستان د بېلا بېلو دولتي ادارو او د علومو اکاډمي د مختلفو مرکزونو علمي غړو ته د څېړنې د اصولو او مېتودونو په اړه پنځه میاشتنی پیل شوی کورس د وروستۍ ازموینې په اخیستلو سره پای ته ورسېد.

دغه کورس چې د ۱۳۹۹ هـ.ل کال د میزان میاشتې پر ۱۰ نېټه پیل شوی و، درسونه یې د همدغه کال د حوت میاشتې پر ۱۵ نېټه پای ته ورسېدل، چې د وري پر ۱۸مه د وروستۍ ازموینې په اخیستلو سره د دغه کورس دویمه دوره پای ته ورسېده. ۲مخ



### چنار کلنۍ دودیزه مشاعره ترسره شوه

په خوست کې د چنار کلنۍ دودیزه مشاعره جوړه شوه چې شاعرانو په کې خلکو ته د سولې او ثبات د ټینګښت پیغامونه ورکړل.

د چنار په دغه کلنۍ دودیزه مشاعره کې چې د وري په ۱۹مه ماښام جوړه شوې وه، پر دغه ولایت سربېره د هېواد له څو نورو ولایتونو څخه هم یو شمېر شاعرانو، فرهنګیانو او د ادب مینه والو ګډون کړی و.



### د ریدي ګل مشاعره جوړه شوه

په کندوز کې د ریدي ګل ملي مشاعره په شانداره مراسمو سره د وري پر ۲۰مه ونمانځل شوه.

غونډه په همدې موخه د پسرلي ادبي او کلتوري ټولنې له خوا د ښاروالۍ ریاست په لوبغالي کې ترسره شوه چې په کې د دولتي ادارو رئیسانو، مدني فعالانو، فرهنګیانو، ځوانانو، شاعرانو او خبریالانو ګډون درلود.




### «پښتو متل کښې د پښتنو کلتوري شناخت» ډیزرټېشن دفاع شو

په پښتو څانګه پېښور پوهنتون کې د پي ایچ ډي سکالر حمید خان د «پښتو متل کښې د پښتنو کلتوري شناخت» تر عنوان لاندې خپله دفاع د وري پر ۲۰مه (د ۲۰۲۱م کال د اپریل نهمه) وړاندې کړه.




د هغه لارښود استاد د پښتو څانګې پخوانی مشر پروفیسر ډاکټر عبدالواحد خان و، امتحان اخیستونکي یې د قائد اعظم پوهنتون استاد پروفیسر ډاکټر حنیف خلیل و، د کمېټې غړو کې د پښتو څانګې مشر پروفیسر ډاکټر روح الله او ډاکټر بدرالحکیم حکیمزی وو.

### د ماشومانو لپاره د لسو چاپ شویو اثارو مخکتنه وشوه

د مصور بنسټ له خوا د ماشومانو لپاره د لسو چاپ شویو آثارو مخکتنه د وري پر ۲۲مه په علومو اکاډمي کې ترسره شوه. ۲مخ

